مجله علمی- تحقیقی جوزجانان

دوره ۱۶؛ شماره ۱ (مسلسل ۴۳)؛ خزان و زمستان ۱۴۰۲؛ صفحات ۷۷-۹۱

# د حمزه بابا په اشعارو کې ښکلا د لفظ یادونه

**عبدالوکیل لېوال**

پوهنمل، پښتو څانگه، ښووني او روزنې پوهنځی، جوزجان پوهنتون، شبرغان، افغانستان.

http://orcid.org/0009-0000-8339-2262 - wakillewal1989@gmail.com

**(تاریخ دریافت: ۱۴۰۲/۱۰/۱۸ - تاریخ تأیید: ۱۴۰۳/۱/۸)**

**لنډیز**

*دا مقاله د حمزه بابا په اشعاروکې د ښکلا لفظ یادونه تر سرلیک لاندې پیل شوې، چې د حمزه بابا پېژندنه، د حمزه بابا آثار، د حمزه بابا زده کړې بیان شوي او ورپسې بیا د حمزه بابا په اشعاروکې کې مې د ښکلا لفظ یا کلمه په گوته کړې ده، چې ورپسې مې د هماغه بیت محتوا ته په کتو سره همدا کلمه په تفصیل سره سپړلې ده او بله خبره داچې د ښکلا په اهمیت او ارزښت باندې مې خبرې کړې دي همدارنگه هر بیت او هر شعر مې په جلا ډول سره تشریح او سپړلی دی او ما د دې مقالې په لیکلو کې د بېلابېلو معتبرو منابعو، لکه مقالو او کتابونو په لوستلو سره مې دا لیکنه چمتو او برابره کړې ده، نو زما په دې مقالې کې هم د ښکلا په ارزښت او اهمیت باندې رڼا اچول شوې ده. او همدارنگه زما د دې مقالې د لیکلو میتود کتابتوني دی او په کتابتوني کې مې د متن او شعر د سپړنې له روش څخه گټه پورته کړې ده.*

**کلیدي کلمې:** *حمزه بابا، غزل، تصویر، ښکلا.*

# Recognition of beauty in the poems of Hamza Baba

**Abdul wakil lewal**
Senior teaching assistant, Department of pashto language and Literature, faculty of education, jawzjan university, sheberghan, Afghanistan.
wakillewal1989@gmail.com - http://orcid.org/0009-0000-8339-2262
**(Received: 08/01/2024 - Accepted: 27/03/2024)**

## Abstract
*This article started under the title of recognition of beauty in the poems of Hamza Baba, which describes the introduction of Hamza Baba, the works of Hamza Baba, the education of Hamza Baba, and then the recognition of beauty in the poems of Hamza Baba is fully discussed, i.e. the first Beauty has been defined and recognized, and then the word beauty has been pointed out in Hamza Baba's diwans and poems, and then looking at the content, this word has been explored in detail, and another thing is that the importance and value of beauty has been discussed Also, each verse and each poem has been explained and explored in a different way, and I have prepared and prepared this article by reading various reliable sources, such as articles and books, in writing this article. Beauty is highlighted on value and importance. My method of writing this article is library and I have used the method of exploring text and poetry in the library*

**Keywords:** *Hamza Baba, Ghazal, Image, Beauty.*

## سریزه

زما د دې مقالې موضوع د حمزه بابا په اشعاور کې د ښکلا د لفظ یادونه او ذکر دی او ما د دې لپاره دا موضوع غوره کړه، چې ما د حمزه بابا په اشعاور کې د دې لفظ ذکر او یادونه ډېره تر سترګو کړه او ماته دا پوښتنه پیدا شوه، چې د حمزه بابا موخه او هدف څه وو، چې دا لفظ يې بار بار په خپلو اشعاور کې یاد کړی او همدارنګه او د دې علت معلومولو ا سپړولو په پار مې دا موضوع غوره کړه او موخه مې هم دا ده، د حمزه بابا د اشعارو په سپړلو سره دا جوته کړم، چې د دې لفظ د یادونې موخه څه ده؟ او بل دا چې د حمزه بابا په اشعاورکې د دې لفظ په هکله تر اوسه کوم لیکوال یا څېړونکې کومه لیکنه او یا مقاله نده لیکلې، نو ما فکر وکړ چې په دې برخه کې د نورو کره څېړنو لپاره یو ور پرانیزم او دا زما په اند یو ضرورت ښکاري چې باید څه نا څه پرې ولیکل شي او ما هم د حمزه بابا په دیوان کې دا کلمې پیدا کړې او د هر بیت د محتوا په کتو سره مې خپل برداشت او تحلیل پرې لیکلی او ما په دې څېړنه کې د شعر د سپړنې او تحلیل د میتود څخه ګټه پورته کړې او خپله مقاله مې بشپړه کړې ده.

### د څېړنې ارزښت

د حمزه بابا په شعر کې د ښکلا د لفظ په ارزښت پوهېدل

زما د څېړنې بل ارزښت په دې کې دی چې د حمزه بابا په اشعاروکې د دې لفظ په اړه هیڅ ندي لیکل شوي او د دې سره به یوه نوې موضوع د ده په اشعاور کې را منځته ته شي.

### د څېړنې ستونزې(مسئله)

د حمزه بابا په اشعارو باندي لږ کار شوی، او د مواد کمښت، چې زما په دې څېړنه کې به دا ستونزه څه نا څه حل شي .

### د څېړنې موخه

د حمزه بابا په اشعاروکې د ښکلا د لفظ په هکله پوهېدل.

د حمزه بابا په شاعرۍ کې ښکلا پیژندنه.

د حمزه بابا د شاعرۍ په منځپانګه پوهیدل.

### موضوع شالید

تر کوم ځایه چې ما مطالعه کړې په دې برخه کې، په دې موخه او بڼه مخکې چا کار نه دی کړی، او که يې کړی هم وي ډېر کم کار شوی نو پدې بڼه دا یوه په زړه پورې څېړنه ده، خو بیا هم ما د بېلابېلو اخځلیکونو څخه ګټه پورته کړې تر څو دا لیکنه تر یوه ځایه ګټوره ثابته شي.

**د څېړنې کړنلاره**

د موضوع د سرلیک له ټاکلو وروسته ورته ذهني خاکه او اړانه جوړه شوه، بیا مې ورتـه ماخذونـه راټول کړل، له هغې وروسته مې د حمزه شینواري په ژوند لیک بانـدي خـبرې کـړي، او تـر هغـه وروسته مې د ده په شاعرۍ کې د ښکلا ذکر را اخستی دی. ددې موضوع میتود بشپړ کتابتوني و او په کتابتوني کې مې د سپړنې له روش نه ګټه پورته کړې ده.

**د څېړنې اصلي متن**

**د حمزه بابا ژوند ته لنډه کتنه:** حمزه بابا د پښتوژبې نامتو لیکـوال اونـا زکخیالـه شـاعردی، د ده تغزلي تشبهات اواستعارې ډېرې خوږې دي اوله همدې سببه د پیښور د سیمې شاعرانو او ادیبانو ده ته د غزل د استاد لقب ورکړی دی د اوسني لیکـوال لیکـوونکی عبـدالروف(بینوا) د ده پـه اړه داسې وایي. «ماڅوکاله پخوا له ده څخه د ده سوانه غوښتې وه، ده خپله ما ته داسي لیکلي و:زمـا نوم امیرحمزه، کنیت ابوالمراد دی، د پلارنوم مې ملک بازمیرخان دی، په لواړګی کې په (۱۹۰۷) میلادي کال کې پیداشوي یم... (زیور، ۱۳۹۰، ص. ۱۸۹).

د شپږوکالو په عمر د لواړګې په مدرسه کې داخل شوم، له وړوکوالي نـه زمـا طبیعـت د سـبق سره جوړنه و، اوما د سبق نه ګریز کاوه، په پنځم جماعت کې زما شاعرانه فطرت غزونه وکړه اومـا د شاعرۍ بسم الله په اردو ژبه وکړه، مولانا محـترم حضرـت عبـدالقادر صـاحب بـه ماتـه اصـلاح راکوله، د نهم جماعت نه پس زما ازاد فطـــرت دهـــریومالدارمـــلک اوسرکاري ټیکه دارو، د معاش دغم نه وزګاروم، په اردو ژبه مې افسانې اوغزلې لیکلې اوهمدغـه وجـه وه چـې زمـا والـد وفات شـو او زمونږ په خاندان کې د ابتلا وریځو غونډه وکړه. (بینوا، ۱۳۸۸، ص.۳۱۰).

همدغه کال و، چې زه د تصوف دنیا ته ما یل شوم په (۱۹۳۳) میلادی کال ما ته خپـل شـیخ عبدالستار صاحب «چشتي» هدایت وکړو، چـې د اردو ادب پرځـای خپلـې مـورنۍ ژبې پښـتوته توجه وکړم، د هغه د ارشاداتو داسې اثرو، چې زما ذهن په معجزانه ډول د اردو ادب د ګلانو ډکـه لمن څنډ وهله اود خپلې ژبې اغزن ماحول ته یې غیره پرانیسته،زما د لومړۍ غزلې مطلع داده:

داساقي ګلررخ چې نظردوی ته جانانـه کـوي ریـږدي دمسـتۍ نـه سـاغر، وجـــــدپیمانه

د حمـزه شینواري په اشعارو کې د خوشحال بابا، عبدالرحمان بابا، حمید بابـا، میرزاغالـب او علامه اقبال الهامات هم ځلیدلي دي، خو پـه پښـتني ادب کښـې، نـوی اسـلوب اوسـبک لـري (شینواری، ۱۹۹۷، ص. ٦٥). حمزه بابا له تحصیل وروسته، د تـورخم پـه سیاسي اداره کـې، د پاسپورټ د څانګې مامور وټاکل شو او پلار یې د تورخم د اورګاډي د ادارې منـتظم و ؛ نـو حمزه بابا هم د اورګاډي په اداره کې سیاره دنده واخستله او د هند ګنو ښارونو ته یـې سـفرونه وکړل . د بمبیي ښار، چې د هنري فلمونـو د جوړولـو مرکـز و، لـومړی یـې د چویـو فلمونـو پـه

جوړولو کې فعاله ونډه واخیسته، بیا یې په ویاندو فلمونو کې، په (۱۹۴۱)م کال کې د (لیلا مجنون) (پیغلې)، (یوسف خان اوشیربانو) فلمونه سمبال کړل (شینواری، ۱۳۷۹، ص. ۳۴).

**د حمزه بابا په اشعاروکې ښکلا لفظ یادونه**

مخکې له دې چې په اصلي موضوع یعنې د حمزه بابا په اشعاروکې د ښکلا کلمه په گوته کړم او په هغه خپل نظر ولیکم ښه به دا وي، چې د ښکلا د لفظ سره هم څه نا څه آشنا شو او وپوه شو، چې ښکلا څه ته وایي؟

ښکلا په لغت کې ښایست ته وایي اوپه اصطلاح کې د یوانسان یا یوشي ظاهري حسن ته ښکلا وایي.

ښکلا دهرچا خوښیږي ځکه چې وهر چا اوهرشي ته ښکلا یو لوی نعمت دی، چې د الله(ج) له خوا ورکړل شوې وي، او ښکلا په داسي وخت کې روښانه کیږي چې د یو انسان فکر خیالور وي، اوهمدارنگه دغه انسان څه ناڅه خوشحاله وي (روهی، ۱۳۸۴، ص. ۱۵۶).

حمزه بابا په لاندې شعرکې بیا د ښکلا کلیمه ذکر کړې ده او دلته یې د پسرلي ښکلی موسم او ښکلی باد په ډیر استادانه ډول انځور کړی دی

چې ښکلي نن سبا په آیینو کړي مینه ډېره — موسکی مې ارمانونه دي روښانه شوگیرې شوې
سلگی وې بې ترتیبه خوچې ستا په تصور وې — پیدا پکې یوهسې رنگ ښکلا شوه چې نغمې شوې

(شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۱۸)

د لته حمزه بابا خپل گریوان رخصتوي او ورته وایي چې نور دي الله (ج) مل شه، تاته زه ضرورت نلرم، او ستا وښکلاته نه گورم، ځکه چې اوس رنگ په رنگ گلونه راغله او د نمر وړانگې خپرې شوې، هغه پرخه(شبنم) چې د گلانو په مخ باندې پروت دی اوس د تیښتې په حالت کې دی، دا داسي ښکاري چې زما په تود نظر سره زما د معشوقې په مخ باندې خولې وي اومخ یې خولی شوی وي.

په دې وخت کې چې ښکلې په آیینوکې مینه کوي په دې مینه کې مې ارمانونه راته په خندا کیږي اوهغه خوبونه چې مې لیدل هغه ټول راته روښانه شول، بل داچې هغه بې ترتیبه سلگۍ چې مې ستا په تصورکې درلودې ټولي مې په ځان باندې قبول کړلې اوپه دې وخت کې چې نغمې راغلې یوبل رنگ ښکلا راغله، د پسرلي په راتگ سره ټولي فضاگانې تبدیله شوې او داسې ښکلې فضا شوه، په دې موسم کې داسې فکر کیږي چې دا فضا پښتنې شوې ده. ځکه چې پښتنې فضا ډیره د میني اومحبت فضا ده، اوپه دې کې هیڅ شک نشته چې دا مړه گلونه به بیا په پسرلي کې را ژوندي شي اود حمزه بابا د حسرتونو شونډې شنې شوې یعنې پسرلي د ځمکې مخ ټول شین اوسمسور کړ.

یا داچې حمزه بابا په لاندې شعرکې د معشوقې وحسن او د هغې ښکلاته داسي اشاره کوي.

مه درومــــه چــې راغلــې تــه ستــــرګوته را غونــډې شــوې چــې اوښـــکې مــې تــوییږي نــه
اوس دزړه ګــــوهـــــر راتــــه لاګــــران شــــولو ښـــــــکليوته ارزان شــولوخـــرڅيـــــږې نـــــه

( شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۳۱)

حمزه بابا خپلې معشوقې ته وايي ترڅوچې ته ماته مخ ښکاره نکړې پرما باندي داشپه نه سبا کیږي، ځکه چې دا شپه هم لکه د بیلتانه شپه غوندي په آسانی نه تیریږي، اوهغه وخت چې تـه راغلې ستا حسن او جمال مې ټـول پـه سترګوکې راغونډ شـول، اويـا دخـو شـحالی نـه مـې پـه سترګوکې او ښکې را ټولې شوې اوس نو را څخه مه ځه چې دا قیمتي ګوهرمې پـه سـترګو کـې راټول کړل دا چې دا قیمتي ګوهر ماته په ډیر ګران قیمت تمام شو، خو داچې ښکلي پـه خپـل حسن اوجمال نازیږي نو زما د ګوهر ارزش يې هم کم کړ اوزما ګوهر نه خرڅيږي.

حمــزه بابا وايي چــــې خيــــر که نن زما د معشوقـــــې اصرار په سینګارونوباندي دی، اوبل داچې دا خپل په حسن باندي نازیږي اود دې د کاکل پسې زما زړه داسې خوردی لکه دود، چې هیڅ نه راټولیږي اوستا حسن اوجمال به هیڅ وخت زما هيرنشي ځکه چې زما په زړه کې يې ځای نیولی دی.

ولــې ښــکلې ســترګې داســې مــړې پورتــه کــوې؟ بويــه پښـــــــتنې چــې يــې درنــې پورتــه کـــــوې

(شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۳۹)

حمزه بابا په پورته بيتونو کې خپلې معشوقې ته وايي چې، ته ولې او د څه لپاره خپلې سترګې داسي مړې او ډير په ناز باندي پورته کوې لکه د پښتنو پيغلـو غونـدي ښـکارې دا ځکـه چـې دا رنګ سترګې درنې پورته کول ډير په ناز سترګې اړول او رپول خو د پښتنې پيغلې عادت دی، نو زه دلته فکر کوم چې ته پښتنه پيغله يې.

بل دا چې د لته حمزه با با پتنګ ته وايي چې نور طواف پریږده ته چې په شمعې باندي میین يې بايد ځان ورباندي لوګی کړې، تر هغه چې بيا ټوله شپه په خپل يار پسې کـړاو او نـا لـه کـوې بهتره دا ده چې په یوځل ځان ورباندي وسيځې، د خپل یار د تصور سره خوښ شه نـوريې مـزل پریږده چې همیشه يې د بدرګې لپاره بارونه وړې.

حمزه بابا په لاندي شعر کې خپل وقلم ته وايې چې پورتـه شـه هرڅـه چـې حقيقتونـه دي د همدې حقيقتونو ښکلا اوښايست را په ګوته کـړه او دا دوه مخـې زمانـه پريـږده چـې خپـل کـار وکړي.

ولیـــــــکه قلـــــــــمه يـو غـــــــــزل ښـه پريـږده چـــــــــې ويــــــــيږي دا دوه ژبـې زمانـه
جانانهميـــــنه د زلفانو بــــې لـه خالـه پښـــــيماني شي نه ورتله تـش دام تـه وي چــــې نـه لــــــري دانـه
پورته شه بیان په افســــــانه کې حقيقـت کـــــړه بيا د حقيــــــقت نـه راښـــکاره کــــــړه افسانه
ښــــــکليه دا خـو لا دې نښـانه دپرېشانــــــی ده څو که دې کمــــــــــځی دجمعیت کـــړې بهانـه

( شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۳۶)

په پورته شعرکې حمزه بابا قلم ته وایي چې ماته یو ښه غزل ولیکه چې زما د زړه تولې غوښتنې پکې وي اوهغه څه ولیکه چې ټول حقیقت او رښتیا وي دا دوه ژبې زما نه پرېږده نور د دې زما نې پسې مه ورځه او په دروغو باندې مه غولېږه، دا زمانه داسي پښېماني لري لکه هغه د زلفانو مینه چې بې خاله وې یعنې هرڅوک چې یوازې په زلفانو باندې مین شي هرو مرو بیا وروسته پښېمانه شې، ځکه چې د زلفانو سره شین خال ډېر ښکلی وي او ډېر ښایسته ښکاري که هرڅوک په هغه زلفانو باندې مین شي چې شین خال هم ورسره وي بیا به هیڅ کله پښېمانه نشي.

حمزه شینواری خپل قلم ته خطاب کوي چې پورته شه وماته ټول حقیقتونه را ښکاره کړه، او هغه افسانې چې د خلکو په خولې کې دي هغه راټولې کړه، ماته د هغه افسانو بیان وکړه او یو په یو یې ماته ولیکه، او داهم زه له تانه غواړم په کومو افسانو کې چې حقیقتونه موجود دي هغه افسانې وماته ولوله او د هغو څخه ښکلې حقیقتونه را جلا کړه چې زه ورباندې پوه شم.

حمزه بابا دلته هم حسن او ښکلا ته ایشاره کوي او وایي چې حسن او ښایست په خپل ذات کې یو دی او داچې په هر ځای او هر محفل کې ځانته بیل ځای نسي دا ډېره په زړه پوري خبره ده، او دا هغه پراونه ده چې په هر ځای کې خپل ځان په شمعې باندې قربانوي او ځان سیځي.

بیاهم حمزه شینواری په لاندې شعرکې د خپل یار ښکلا په ګوته کوي او د خپل یار احسان او نیکې په ډېرو خوږوالفاظو بیانوي او هغه په ښکلې ښکلې تصویرونو کې بیانوي او ښکلی رنګ ورکوي.

مینه د ښـــــکلا خو تل دظرف په اندازه وي　　پس له شمـــعې هڅه پتنګ چیرته کوي نمرته
ته چـــــې ملتفت شـې هریو در هم دتا در دی　　اوګنې حیران یمه چې لاړ شمه کــــوم درته
( شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۴۰)

په پورته شعرکې حمزه بابا د خپل یار احسان اونیکې یادوي، کله چې زما یار خپل د کرم او احسان دروازه خلاصه کړه نو په دې وخت کې زما د ښمنان او رقیبان داسي وسوزول شوه لکه پتنګ چې په شمعې باندې وسوزول شي، حمزه بابا وایي چې د ښکلا مینه د یوظرف په اندازه ده چې دامینه کولای شي سړی هم دخیر وخواته وهڅوي اوهم کولای شي چې سړی د شر وخواته وهڅوي، خوښه ښکلا او ښه ښایست هغه دی چې سړی د خیر وخواته وهڅوي.

بیاهم حمزه بابا وایي ښکلا چې هري خواته لاړه شي هغه خوا له خپل ځانه کولای شي، او هردرته چې لاړه شې هغه در د هغې دی یعني د هر در اوهر چا د ښکلا څخه ښه راځي او په ښکلا باندې مېین کیږي، اود ښکلا غوښتونکې په هر ځای کې بې حده ډېر دي، خو زه چې ښکلی نه یم په دې نه پوهیږم چې کوم در ته ودریږم او د کوم در څخه د ښکلا غوښتنه وکړم، ځکه چې د هر در وخواته مخ کړم بیا هلته رقیبان ما نه پرېږدي او ماته بد ځوابونه راکوي په

همدې اساس زه د دې جرأت اوتوان په خپل ځان کې نه وینم چې د کومې دراوزې خواته لاړ شم او د هغه څخه د ښکلا طمه وکړم.

حمزه بابا په لاندې شعر کې د سترګو وښکلاته خطاب کړی دی او وایي چې د پښتنو په سترګو کې تل ښکلا او ښاسیت ځای لري او دا زما معشوقه چې وهرې خواته سترګې وغړوي د دې په سترګوکې ډیوې بلې شي او دا زما د معشوقې سترګې داسې روښانه ډیوې دې لکه په شپه کې چې د آسمان ستوري ځلیږي.

چې د ښکلا نه دې په سترګو کې پړکیږي ډیوې / په هغه وخت کې زما اوښکې معلومیږي ډیوې
پکې یو خوی مې دتمکین دپښتنو ولیدو / هیڅ حرکت له ځایه نه کړې که سوځیږي ډیوې

( شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۴۱)

په پورته نظم کې حمزه بابا خپل یار ته وایي چې د ډیري ښکلا څخه یا دا چې ته بې اندازې ښکلې یې او ستا سترګې لکه د آسمان ستوري ځلیږي چې په رڼا او تجلا یې ټول چاپیریال روښانه کړي دی، بل دا چې په ډیره ښکلا سره ستا په سترګو کې ډیوې بلې دي.

بل ما ستا په سترګو کې ډیر ښایسته او ښکلی ناز او تمکین ولیدو هغه ناز او تمکین چې د پښتنو پیغلو په سترګوکې همیشه لیدل کیږي ماهم دا ناز او تمکین ستا په دې ښکلیو سترګو کې ولیدو چې زه ورباندې مېین شوی یم، او زه لکه پتنګ غوندې چې په شمعې باندې مېین دی ورڅخه هیڅ حرکت نه کوي، زه هم لکه دغه پتنګ هیڅ توان او قدرت د حرکت نلرم چې ستا د سترګو څخه لرې شم.

حمز بابا دلته پښتون ته هم وایي که داسې ورځ راشي چې تاسو په خپل منځ کې سره یو شئ او یوتر بل جارشئ نو دا ورځ به هم ډیره ښکلې او ښایسته وي او داسې ښکاري چې تاسو په خپل منځ کې د الفت او محبت ډیوې بلې کړې وي، اما که په هرمحفل کې زه ستا سترګې ونه وینم داسې فکر کوم چې په دې محفل کې هیڅ بریښنا نشته او زه په توره تیاره کې ناست یم که ستا دا ښکلې سترګې موجودې وي نو ستا په ښایسته سترګو ټول محفل ښایسته او روښانه دی، ځکه چې ستا د ښکلیو سترګو څخه ټول محفل رڼا اخلي.

اما زما د هجر شپې او هغه شپې او ورځې چې زه یې بې لتا څخه تیروم په ما باندې ډیرې سختې تیریږي چې هره شیبه مې ته په یاد یې او بې له تاڅخه زه یوه لحظه هم په آرامی نه شم تیرولی.

هغه وخت چې حمزه بابا وخپل یارته ورسید او دی یې ولید نو یې وپاک خدای(ج) ته دا پوښتنه وکړو چې یا الله (ج) زه په دې نه پوهیږم چې دا اوس زما یار دی او که د آسمان په مخکې لمر دی؟ آیا دا روښنایي زما د یار د مخ ده او که د لمر ده؟ زما د یار په راتګ سره یو داسې باد راپیداشو چې زه نه پوهیرم چې دا زما دیار باد دی او که د نسیم باد دی؟ بیاهم حمزه

بابا دلته په لاندي شعرکې د خپل یار ښکلي سترگې، ښایسته باړخوگان، او ښکلیو باڼو گانو څخه یادونه کوي.

سترگې دې ست راته کوي داشارو په ژبه — خوځه باور نشي کیدای دلیونو په ژبه
ماته ښکلا دي راښودلې دسلگوپه ژبه — چې یادوم دي دسحر داسویلوپه ژبه
(شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۴۶)

په پورته بیت کې حمزه بابا د خپل معشوقې سترگوته ځیر شوی دی او وایي هر وخت چې زه ستا وسترگوته ځیر شوم ستا سترگو به ماته په اشارو ست کوی، اما زما زړه به راته ویل چې د لیونو په ژبه دومره باورنشته ځکه چې یوه لحظه په یو حالت کې وي اوبله لحظه په بل حالت کې وې په همدې اساس یو د لیونو په ژبه باورښه ندی، دویم د هغه کس چې ډیر ښایست او حسن ولري ځکه چې ښکلې همیشه په ناز خبرې کوې او همیشه خپل کارونه په غرورسره ترسره کوي.

حمزه بابا دلته د وخت څخه هم گیله لري او وایې چې اوس وخت هم زما سره د حقیقت په پیدا کولو او پیژندلو کې مرسته نه کوي، حمزه بابا وخپلې معشوقې ته وایې چې زه تل ستا لپاره په انتظار کې یم، ستا حسن و جمال په ما اور لگولی دی او زما زړه تل ستا لپاره په ځان غمونه، دردونه، اوسوزونه قبول کړي، شپه او ورځ ستا په ستاینه کې ډوب دی، هر وخت چې زه تا و وینم په ما که شپه وې نو دم گړی په سپینه غرمه بدله شي او ټول دردونه او سوزونه راڅخه لرې شې، بلاخره ته وماته او زما وناروغی ته درمل یې چې ستا په وصال کې زما وجود روغ رمټ کیږي.

حمزه شینواري په لاندي بیتونوکې بیا وسترگوته اشاره کوي او ساقې ته وایې ما خو ستا دلاس ډیر شراب وڅښل خو هیڅ په پکي نشه نشوم زه نه پوهیږم چې ستا په شرابوکې څه تاثیر نشته او که په ما با ندي تاثیر نه کوي؟

ډیر مي ساقي نوش کړه خو هیڅ پکې نشې نه دي — سترگې دې را واړوه،سترگې مې لا سرې نه دي
یو خو بې لوظي کوي، نیغ کاته دپاسه پرې — سترگې خو دې ښکلې دي،څه چې پښتنې نه د
(شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۴۵)

په پورته بیت کې حمزه بابا وایي، ډیر شراب مې وڅښل خو هیڅ اثریې نه درلود او زه یې هیڅ نیشه نکړم ځکه چې ما ډیر ورڅخه وڅښل خو کوم زوریې نه درلود.

نو په دې وخت کې د خپل یارڅخه غوښتنه کوي چې راشه او یوځل وماته دا خپلې ښکلې سترگې را واړوه چې زه نیشه شم ستا د سترگو په لیدو سره زه او زما زړه آرام وموومي، همدارنگه ستا په لیدو سره زما د سترگو تنده ماته شي.

حمزه بابا په لاندي شعرکې د خپلې معشوقې ښایست،حسن و جمال د اسمان د ستورو او نمر سره مقایسه.

په ذکر شوي شعر کې حمزه بابا وايي که د نړۍ ټول ښايستونه او ښکلا سره يو ځای شي بيا هم زما د معشوقې ښکلا او ښايست ته عاجزه دي، د دنيا ښکلا څه چې د اسمان ستوري هم زما ديار د ښکلا او روښنايي څخه رنګ او روښنايي اخلي، تاسو زما د يار ښکلا او ښايست زما څخه مه پوښتئ! ځکه چې زه يې د هيڅ څيز سره نشم پرتله کولای، خو دومره پوهيږم کله چې زما وخواته راشي په دې وخت کې که ښه ورته ځير شو، نو لکه نمر غوندي ښکاري.

داځکه چې کله نمر پورته شي د اسمان ستوري ټول ورک شي او نوريې بيا ځليدا نه ښکاري ځکه چې د نمر ځليدا او روښنايي نسبت ستورو ته ډيره غښتلې ده چې ستوري ورته عاجزه دي.

همداسي کله چې زما معشوقه راشي ټولي ښکلاوي ورکې شي بيا نه معلوميږي يوازي زما د يار ښکلا او بريښنا ليدل کيږي.

حمزه بابا په پورته شعر کې داهم يادوي چې هرښکلي څيز ته ډير خطرونه متوجه وي ځکه نمر که څه هم دومره قوي دی او روښنايې او ښکلايي ډيره ده، خو بياهم يو لوی خطر او لويه بلا ورته متوجه ده چې هغه کسوف دی، خو ستوري چې ښکلايې لږده او روښنايي يې کمه ده په هغه اندازه يې خطرونه لږ دي، نو زه هم چې دومره مې ښکلا کمه ده په همدې اندازه مې خطرونه لږ دي.

حمزه بابا په يو شعر کې بياهم د خپل يار وحسن او جمال ته اشاره کوي، او وايي کله چې زه له تا نه جدا شم داسي فکر کوم چې زه په زندان کې ژوند کوم او هره شيبه چې مې په ياد شې، نو ټول روح او روان مې ستا سره وي.

| | |
|---|---|
| چـــرته يـې چـــــــې ستا نـه جـدا يووړمـه | څــــوك بـه وو بـــــې تانـه خـو تـا يووړمـه |
| بـــــې ګــودره ځغــل کــړم لکــه دوه چــې وي | ســتا د ګـــــــورو زلفــو هـــــــوا يووړمـه |
| يــو تــر بلــه غونــډ وو ســـــــره ډيـر ښـکلي | خــدايزده چـــــــی پريشــان يمــه چـا يووړمـه |

(شينواری، ۲۰۰۷، ص. ۸۶۳)

حمزه بابا بيا هم په تکرار سره خپل يارته وايي هر څوك چې راغی زه يې له تا نه جدا کړم و بل لور ته يې يو وړم خو بياهم ته زما په رګ رګ او د بدن په هر غړي کې مې ځای لـري، هـيڅ نشم کولای چې تا له ځانه لري و وينم، هره شيبه مې ته په ياد يې او ستا د تـورو زلفوڅخه هـيڅ وخت ځان لرې نشم ليدلی.

حمزه بابا وايي په هر ځای کې چې ښکلې او ښايسته پيغلې ووينم چې هر څومره يې ځانونه سينګار کړي هم وي، خو بياهم ستا د تورو زلفو ښکلې غاړې او ښايسته مخ رنګ او ښايست پکې نه وينم په همدې اساس زه ودې ته ډير په تعجب کې يم چې پاك رب وتاته څومره ښکلا او حسن درکړی نو ته بايد تل د خدای پاك شکر ادا کړې.

په همدې اساس حمزه بابا چې هرې خواته مخ کړي بيايې هم روح او روان،لاس او پښــه، او ټول بدن يې ديار خواته حرکت کوي او هغه خواته ځي.

حمزه بابا د خپل شعر په روستی فرد کې وايي کله چې ما ستا کاکل وليد نو زه داسي پـه کـې ګير شوم لکه کوتره چې په جال يا دام کې بنده شوې وي، له ځانه څخه مې پوښتنه وکړه چې پـه څه بلا اخته شوم؟ اودې بلا کومې خواته يووړم؟ حمزه بابا په يو ښکلې شعرکې وزړه تـه ښـکلی تصوير ورکوي او د زړه هغه ښکلې غوښتنې پـه ګوتـه کـوي چـې د ده زړه لـه خپـل يـار څخـه غواړي؟

نور ښکلي مې هم کـه زړه تـه راشي اشـنا څـه وشـول
پوه خـــــويې؟حجره د پښتنو خـو ميلمانـه غـواړي

تت کاتـه يـې ورک کړه،برنـدې سـترګې دې ور واړوه
ښــــکليه آيينـه زمـا د زړه درنـه بانـه غــــــواړي

( شينواري، ۲۰۰۷، ص. ۸٦۴)

حمزه بابا وايي چې زما زړه نور ښکلي هم غواړي، ځکه چې زړه هـم د کـور او حجـرې پـه څير دی او په دې هم پوهيږم چې د پښتنو حجره تل ميلمانه غواړي او تل د پښتنو کور او حجـره د ميلمنو څخه ډکه وي.

حمزه بابا داهم وايي چې ای زما ياره زما سترګې ستا څخه تش کاته نـه غـواړي چـې يـواځې وتاته وګوري،بلکې زما زړه او زما سترګې ستا څخه سـتا دا ښـکلي او ښايسـته بانـه غـواړي شرط دادي چې ته لږ ورباندې مهربانه شې اوزما د زړه غوښتنه پرځای کې.

په پورته بيتونوکې حمزه بابا د خپل زړه غوښتنې يادوي چې زما زړه هم زما ديار ښکلا وليـده او زما سځخه يې ډيره سخته تقاضا وکړه چې زه هم ښکلی زړه غواړم، خـو دا چـې زمـا زړه ډيـر هوښيار اوځيرک دی، نو يې په مسقيم ډول خپله غوښتنه زما څخه ونه غوښته او خپل حـال يـې هم وماته په ډاګه ونه ويل.

حمزه بابا وايې چې نن د سحر سترګو وماته راز د مينې او محبت وښود ماته يې و ويـل چـې ته خو يوځل د خپل آشنا عکس او تصوير راوړه چې په موږ باندې هم د دې د ښکلا څـه ناڅـه تاثير وشي چې موږ هم لږ د سکون سا واخلو، او که غـواړې چـې د خپـل يـار د ښـکلا تصـوير جوړ کړې نو په دې حالت کې پکارده چې ته بشپړه اماده ګې اوتيـاري ونيسـې ترڅـو چـې سـتا خوښ شي.

داځل حمزه بابا خپل په لاندې شعرکې د خپل وطن ښکلا يادوي او د وطـن د ښـکلې آب و هوا پسې ژاړي شپه او ورځ ځان په غربت کې ګڼي چې نور احوال به يې ورسته پـه تفصـيل سره ولولو. لکه:

هجـرکې زما نـه پـه وطـن کـــې وطـن پـا تـې شـــي
څنګ چې دبلبل نـه پـه خـــزان کـې چمـن پـاتې شي

آب و هـــــوا داســـې دکابـل مـــــــې مخالفـه ده
ذوق دښـکلالاړشي هـم مـې ذوق دسـخن پـاتې شي

( شينواري، ۲۰۰۷، صص. ۸۷۰-۸۷۱)

حمزه بابا دا ځل خپل په دې بیتونو کې د خپل وطن یا دونه کوي د خپل یار او معشوقې څخه د خپل ځان لري توب ښيې چې زما زړه یوه لحظه هم نشې کولای ستا څخه لرې او سي، حمزه بابا وايي کله چې زه ستا څخه لرې شم داسي حالت په ما راشي لکه چې بلبل د چمن څخه لري شي یعني بلبل خپل ورځ اوشپه په خزان کې تیره کړي، د بلبل هره ورځ په خزان کې دا سي وي چې په بلبل باندي قیامت او یا د غم او ماتم ورځ وي، دا ځکه چې بلبل په پسرلې او د چمن په ښایسته او ښکلي کلانو، ښایسته چمننونو، په ښکلې او په زړه پوري آب و هوا باندي مېین دی، بلبل په ښکلي چمن باندي ځان قربانوي، بل داچې د بلبل ښکلې نغمې او په زړه پورې آواز په ښکلي ګلانو او په ښایسته چمن کې ډیر خوند او رنګ لري، نه د بلبل ښکلی آواز او دخزان سپیره موسم چې د ګلانو او ونو پاڼې د رژیدو په حالت کې وي، او ټول د طبعیت مخ په خاورو بدل وي.

حمزه بابا داهم وايي کله چې زما یار په ما باندي په غوسه شي خپل غاښونه سره وچیچي، داچې زما معشوقه ډیره ښکلې ده نو په دې ښایسته او ښکلي مخ کې دا سپین غاښونه دومره ښکلي اوښایسته ښکاري لکه دعدن دُر او یا مرغلرې چې د ډېره ښکلا او ځلیدا څخه انسان نشي کولای او د دې توان نه لري چې په سمه توګه ورته وګوري.

حمزه بابا په لاندې شعر کې خپل زړه ته وايي ته یو ځل زما د یار په ښکلي مخ تیروتې بیا له دې وروسته دا کار تکرار نه کړې او تیر نه وځې ځکه چې ښکلي وفا نه لري.

| | |
|---|---|
| لږ د نورو ښکلیو له اندازه جدا تیروځه | جاردې له هوښیارو سترګو ښکلیه په ما تیروځه |
| څوک به آشنا تیر باسي چې یو ځل دې بیا تیر باسې | ښه !زما هوښیاره زړه چې تیروتې بیا تیر وځه |
| ګیرشوې چې ښکلا د تورو زلفو ته دې څه وکړه | چاویل حمزه چې په دې ښکلی بلا تیروځه |

( شینواری، ۲۰۰۷، ص. ۹۷۳)

حمزه بابا په پورته شعرکې خپل د زړه تیروتل په ګوته کوي چې ته ولې دومره د ښکلیو په سترګو، د ښکلیو په مخ، او دښکلیو په تورو زلفو مېین یې دوی هم وتاته هیڅ نه ګوري ستا غم نلري او یوازې تا خپل په ښکلا باندي تیر باسي، ته چې دومره تیر وتې را شه یوځل بیاهم تیروځه او وګوره چې زما یار څومره ښکلی دی؟ او په کومه اندازه د ښکلیو زلفانو، ښکلې مخ، او ښکلیو او ښایسته سترګو څښتن دی؟ او دې ته هم فکر وکړه چې پاک خدا(ج) زما په یار څومره مهربانه شوی دی چې دومره بې اندازې ښکلایې ورته عطا کړې ده.

بیاهم حمزه شینواری خپل زړه ته وايي، له دې نه وروسته د مینې راز زده کړه او د مینې په راز خپل ځان په بشپړه توګه پوه کړه چې بیا په هر ناڅیز شي باندي خوشي څیز ځان تیر نه باسې.

دلته حمزه بابا وخپل یارته وايي چې زه تل ستا په دې مسکو اوښکلیو سترګو تیر وځمه او هرڅه چې ته وايې هغه په ځان باندي قبلومه را شه ته خو هم یوځل زما په دې خوارو او ژړاند

سترگو تیروځه چې زه دې هم یوځل په مینه او محبت سره د سترگو په دیدن سره موړ شم، او داهم درته وایم چې سرمال څه چې ستا لپاره دخپل زړه نه به هم تیرشم، او خپل زړه به هم درنه قربا ن کړمه په دې شرط چې ته یې قبول کړې او زما ناڅیزه تحفه ومنې.

حمزه بابا د خپل یار د ښکلیو سترگو کاته په گوته کوي زما یارچې وهر لور ته سترگې واړوي هغه لور په ښایسته شي او زما دیار د سترگوځخه رنگ واخلي.

| | |
|---|---|
| یاره چې آسمان ته دې بانه گوري | سترگې دې زما په مخ کې څه گوري |
| ښکلی نظر ستا چې بې قراره دی | زړه ترینه ورک شوی دی که زړه گوري |

( ختېک، ۱۳۷۷، ص. ۲۴۸)

په پورته بیتونو کې حمزه بابا خپل یار ته وایې چې ستا دومره ښکلی نظردی که ته زما لور او زما مخ ته وگورې ستا د سترگو په واسطه به زما مخ هم ښایسته شي او زه چې کله و آسمان ته وگورم ستا دا ښکلې بانه گان زه په آسمان کې ووینم، نو ستا دا نظر ولې بې قراره دی؟ آیا زړه ورڅخه ورک شوی دی په خپل زړه پسې گرځي او هغه لټوي؟ او زه چې کله ستا و سرو شونډوته متوجه شم ماته ډېر خواږه خواږه ستونه کوي، اما سترگې دې ډیرې په تریخ نظراته گوري او زه ستا د زړه په حال هم نه پوهیږم چې څه غواړې؟

په دې نه پوهیږم چې په توره شپه کې څوک غله پیدا کولای شي چې ته دومره په ځیر سره گوری خپل شی لټوې؟ خو زه فکر کوم که دا غل مینه او محبت وي نو هیڅ وخت نه پیداکیږي او خپل در هم نه ورکوي.

خو زه دومره جرأت هم نه لرم چې خپل یار ته وگورم که څه هم زما یار وماته په لیمه گوري.

په لاندې شعر کې د حمزه با با په څیر اروا ښاد استاد عبدالروف بینوا هم په خپل شعري کلیاتو کې د سپوږمۍ ښکلا ته اشاره کوي. لکه:

| | |
|---|---|
| د آسمان لویه دنیا کې | ته سپوږمۍ ښکلی زیبا یې |
| رنگ الوتی گونه زر ده | ته ویشتلې په زړه چا یې |

(بینوا، ۱۳۸۸، صص. ۷۹-۸۲)

په پورته بیتونو کې بینوا صیب د سپوږمۍ وښایست ته خطاب کوي او وایې چې ته د آسمان په لویه دنیا کې بې حده اوبې اندازه ښکلې او ښایسته یې ستا رنگ په آسمان کې دا سې معلومیږي لکه سره زر خوبیاهم ډیره ژړه غونې او نا امیده ښکارې آیا ته کوم چا په زړه ویشتلې یې؟ ځکه چې ته هم ما غوندې غمجنه یې زه فکر کوم چې خپل ښایست درته اور شوی دی، راشه وماته د خپل زړه کیسه ووایه آیا ستا خبره هم د مینې ده؟ ځکه چې زه تا هر وخت وینم په همدې حالت کې سر گردانه او لالهانده یې زه تل تا په شپه کې وینم.

راشه چې ما او تا دواړه سره کښینو دخپل زړه دردونه سره یو بل ته و وایو ځکه چې زه هم د محبت او مینې اور سځلی یم، اوس نو زه به وتاته دخپل زړه ټول داستان ولولم، ته وماته لاس

تر غاړي شه او وماته غوږ ونیسه،زه او ته به دواړه خپل غم سره وویشو او ته یوازي په خپل سر مه ژاړه ته پوهیږي چې ته څومره ښکلې او ښایسته یې؟ په دې پوه شه چې ته دآسمان ښکلې او ښایسته پیغله یې، بس یوازي ته یې چې تل شپه تر سهاره د مینوحال وینې او ته د مینانو دزړه څخه خبره یې.

په همدې اساس استاد عبدالروف بینوا سپوږمۍ ډیره ستایلې ده اوهغه یې د آسمان پیغله یاد کړې ده چې په سپوږمۍ باندي توره شپه ښکلې او ښایسته ښکاري یوازي دا سپوږمۍ ده چې تل په عاشوقانو او مینانو گرځي او دهغو په حال سوځي شپه تر سهاره د دوي کړاوونه، دردونه او سوزونه اوري او ویني.

لکه څنگه چې حمزه با با په خپلو ډیرو شعرونو کې ښکلا او ښایست په گوته کړی زیاتره یې د خپل یار ښکلا یاده کړې، ترهغه را وروسته بیا بینوا صیب بیا په خپل یو شعر کې د سپوږمۍ ښکلا یاده کړې ده.

خو په لاندي شعر کې اروا ښاد گل پا چا الفت بیا هنر ښکلا بولي او وایي هرانسان چې هنر ولري هغه ورته ښکلا او ښایست دی.

په هرځای کې په هر چا کې چې ښکلا وي  د یورپ،د افریقې که د اسیا وي
د نظر خاوند په مینه ورته گوري  مسلمان وي او که گبر که ترسا وي

(الفت، ۱۳۸۷، صص. ۱۵۲-۱۵۳)

په پورته بیت کې الفت صیب وایې تر ټولو ښه ښکلا او ښایست دهنر ښکلا ده هر انسان چې هنر ولري که اسیایي وي که امریکایي که افریقایي وي اوکه اروپایي بلاخره هرڅوك چې هنر او علم ولري هغه انسان ترټولو ښکلی دی.

هر انسان وښکلې او دهنر څښتن ته په مینه او محبت سره گوري، خو خبره داده چې ښایست، ښکلا، ذوق او مینه پاك خدای (ج) آزاده پیدا کړې نو په حالت کې شاعران هیڅ قید و شرط نلري په ښکلا او ښایست مینان دي ځکه چې پاك رب ښکلی دی ښکلي خوښوي، په همدې اساس شاعران هم غواړي چې خپل شعر او کلام په ښکلي څیز شروع کړي.

دا وهر چاته ښکاره خبره ده په هرساز کې چې ښه او ښایسته شعر وي د هغه شعر ساز که رباب وي که شپیلۍ وي که دریا وي ډیر ښکلی او ښایسته معلومیږي. الفت وایي هغه نندارو او تماشو ته به ورځمه چې هلته د ښکلیو نڅا او گډا وي، الفت وایي ښه او ښکلی شعر همیشه خوندور وي که دا شعر په هره ژبه کې وي، لکه ښه تصویر او تابلو چې د هر انسان خوښیږي د هغه تابلو جوړونکی په ما کوم فرق نلري که هندو، که چیني او که د برما وي، بلاخره هر گل چې په هرځای کې وي زیبا دی په همدې اساس که په هر انسان کې هنر وي هغه انسان همیشه ښکلی، ښایسته او سرلوړی وي.

**پایله**

دا چې د حمزه بابا کلام د فنونو له ښکلاوو ډک دی او د ده د شعر په ټولو خواوو کار کول شاید کلونه وروسته هم بشپړ نشي او په لسګونو کتابونه پرې ولیکل شي اما دلته ما د حمزه بابا د شعر په یوې کوچنۍ برخې چې تر اوسه ما ته نوې ښکارېدل اما د ده په شعر کې ډېره تکرار شوی لفظ وو ما انتخاب کړ او د هربیت د محتوا په کتو سره مې خپل تحلیل وړباندې لیکلی او خپله مقاله مې بشپړه کړې ده، د حمزه بابا په شعر کې د ښکلا کلمه ډېره راغلې ده او حتماً به حمزه بابا د یوې موخې لپاه دا کلمه کارولې وي او په دې کلمې که به حتماً یو دلیل پروت وي، خو د دې لفظ ذکر د ده په شعرونو کې زه دې پایلي ته ورسولم، یا زما فهم او برداشت د بابا د شعر په سپړنه کې دادی، چې بابا یو هنرمند شاعر دی ښکلا ته یې ډېر ارزښت ورکړی او ښکلا یې یوه زړه وړونکې پدیده ګڼلې، چې د دې پدیدې خوښونه د هر انسان په فطرت او سرشت کې پرده ده په همدې اساس ماهم تر خپل وس او توان د ده په کلام کې دا کلمه په ګوته کړې او د هربیت یا شعر د محتوا په کتو سره مې خپل تحلیل لیکلی.

**مأخذونه**

الفت، ګل پاچا. (۱۳۸۷). *دالفت مرغلرې*. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

بینوا، عبدالروف. (۱۳۸۸). *اوسني لیکوال*. کندهار: دانش خپرندویه ټولنه.

بینوا، عبدالروف. (۱۳۷۸). *د بینوا شعري کلیات*. کوټه: دهیواد نشراتي ټولنه.

خټک، اجمل. (۱۳۷۷). *دغزل په انګوکې*. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

روهي، محمدصدیق. (۱۳۸۴). *پښتو ادبیاتو تاریخ*، دویم ټوک. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

زیور، زیورالدین. (۱۳۹۰). *پښتوادبیاتو تاریخ اوسنی دوره*. پیښور: د ساپي د پښتوڅېړنو اوپراختیا مرکز.

شینواری، حمزه. (۱۹۹۷م). *دحمزه کلیات*، پنځم ټوک. پیښور: پښتو اکاډمي یونیورسټي.

شینواری، حمزه. (۲۰۰۷م). *دحمزه کلیات*، دویم ټوک. پیښور: د احمد طباعتی او صنعتي مطبعه.

شینواری، فاروق. (۱۳۷۹). *دغزونې مقدمه*. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.